مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر دریمه | ۴۲۵مه گڼه

# د سولې هوکړه؛

## خلیلزاد: د ټرمپ تر تایید وروسته په ۱۳۵ ورځو کې

## له پنځو اډو ز رگونه عسکر وباسو



پر ۳ مخ

### په کابل کې د خلیلزاد خلور موخې

۲ مخ

### افغانستان؛ د خپلواکۍ په سلو کلونو کې لویې تېروتنې او پایلې یې

۲ مخ

### د پاکستان حکومت ولې د بابړې پښتانه ووژل؟

۳ مخ

## قریشي: د افغان سولې په برخه کې هر اړخیزې همکارۍ ته چمتو یو

پاکستان وايي، د افغانستان د سولې په پروسه کې هر اړخیزې مرستې ته تیار دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي په خپله تازه مرکه کې ویلي، دوی په افغانستان کې د خبرو له لارې د روانې جگړې د پای ته رسولو پلویان دي او غواړي چې افغانان د بین الافغاني مذاکراتو پر مټ دایمي سولې ته ورسېږي.
د ده په خبره، د سولې لپاره د زمینې برابرولو په برخه کې د پاکستان رول مهم دی او لا به هم خپلو همکاریو ته ادامه ورکوي.
قریشي وایي، د افغان سولې په تړاو تل له امریکا په تېره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره په اړیکه کې دي او له یو بل سره مشورې کوي. هغه ټینگار کړی چې د سولې په برخه کې به هېڅ راز هڅې نه سپموي. قریشي داسې مهال د سولې په برخه کې د همکارۍ ژمنه کوي، چې لا هم د دغه هېواد پر نیت شک دی او عملاً پر کونړ او ځینو نورو برخو توغندي توغوي.
دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې په تړاو په قطر کې د امریکایي او طالب استازو نهم پړاو خبرې هم پرته له کومې پایلې پای ته ورسېدې، خو دواړو لورو ویلي چې په دغو خبرو کې ډېر پرمختگونه شوي او په نږدې راتلونکي کې به د سولې هوکړه لاسلیک شي.

## د مستعفي وکیلانو د کار دې دوام په اړه د ولسمشر سپارښتنه د قانون خلاف ده




۵ مخ

خبره


۴ مخ

## محمد اکبر ایازي



اکبر ایازي لومړی افغان ژورنالېست دی، چې په یو وخت کې په پراگ کې د لسو ژبو د خپرونو مدیریت کوي. نوموړی ۲۴ کاله دوه ځلې د امریکا غږ او لس کاله د ازادي راډیو د پروډیوسر مشر په توگه دنده کړې ده.

## په سرخرود کې له ۳۰۰ مالدارو کورنیو سره د ۶۵ زرو امریکایي ډالرو په لگښت مرسته وشوه



د ننگرهار د کرنې ریاست په دې ولایت کې د مالدارۍ د پراختیا او د مالدارو کورنیو د ملاتړ او له دوی سره د مرستې په پار، داخل د ملگرو ملتونو د نشه يي توکو پر ضد د اداري (UNODC) په مالي مرسته او د علمي پلټنو او ټولنې پراختیا موسسې (ORCD)په تخنیکي همکارۍ، د دې ولایت د سرخرود ولسوالۍ پر ۳۰۰ مالدارو کورنیو د ۶۵ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د مالدارۍ اړونده توکي ووېشل شول.
د ننگرهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، په دغو وېشل شویو توکو کې د شېدو د لېږد ۳۰ لتره لوښي، د شېدو گرمولو دیگ، د گاز ډبې، د شېدو د کیفیت مالومولو آلې، د شېدو ساتنې الماري، لمریز یخچال، زرنج موټر سایکیلونه، مېز، څوکۍ، هواکش، د اوبو لوښي او د کوچو جوړولو ماشینونه شامل دي، چې په دې ولسوالۍ کې د مالدارۍ د پرمختیا په موخه پر دغو مالدارانو وېشل شوي دي.

## صدیقي: گفت‌وگوی صلح زمانی نتیجه خواهد داشت که مذاکرات بین‌الافغانی آغاز شود



سخنگوی رئیس جمهور می گوید که نمایندۀ ویژه ایالات متحدۀ امریکا در امور صلح افغانستان، تمام جزئیات تفاهمنامۀ صلح را با رئیس جمهور و شماری از مقام‌ها شریک کرده و حکومت افغانستان بعد از مطالعه و بررسی، ملاحظات خود را با خلیلزاد شریک می کند.
صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهور، این اظهارات را دیروز در یک نشست خبری در کابل ابراز داشت.
این درحالی است که دور نهم مذاکرات صلح که به تاریخ اول ماه سنبله در دوحه مرکز قطر آغاز شده بود، ناوقت شنبه شب به پایان رسید و زلمی خلیلزاد، روز یکشنبه برای مشوره با مقامات افغان به کابل آمد.
صدیقی گفت که داکتر زلمی خلیلزاد، با رئیس جمهور و شماری از مقام های حکومت دیدارهایی داشته و معلومات راجع به پیشرفت‌ها در گفت‌وگوهای صلح میان امریکا و نماینده های طالبان را شریک ساخته است.
موصوف با ذکر اینکه تمامی جزئیات تفاهمنامه با رهبران حکومت افغانستان و شماری از سیاسیون کشور شریک می گردد، افزود که صلح برای حکومت افغانستان یک اولویت می باشد و زمانی گفت‌وگوها نتیجه درپی خواهد داشت که مذاکرات بین‌الافغانی آغاز شود.
او اظهار امیدواری کرد که گفت‌وگوها و این تفاهمنامه، منجر به ختم جنگ و آغاز مذاکرات مستقیم میان دولت افغانستان و تحریک طالبان شود.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـځ

## په کابل کې د خليلزاد ځلور موخې

د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړی استازی په کابل کې دی او دلته يې له ولسمشر غني، عبدالله عبدالله او له پخواني ولسمشر حامد کرزي سره کتلي دي. د ولسمشرۍ ماڼۍ وياند صديق صديقي ويلي چې خليلزاد د سولې په خبرو کې شوي پرمختګونه او هوکړه ليک له ولسمشر غني سره شريک کړي. دا چې د حکومت دريځ څه دی، د هوکړه ليک له لوستلو، فکر کولو او مشورې وروسته به ارګ خپل دريځ څرګند کړي.

د خليلزاد او ولسمشر غني ترمنځ د امريکا او طالبانو پر هوکړه، بين الافغاني خبرو او د دې خبرو لپاره د افغاني هيئت پر ټاکل کېدو خبرې شوې دي. دغه راز ويل شوي چې دواړو لورو د ټاکنو پر ځنډ او د افغان حکومت او امريکا ترمنځ پر لاسليک کېدونکې اعلاميه باندې هم خبرې کړې دي. ارګ وايي چې د ټاکنو پر ځنډ خبرې نه دي شوې، خو د دواړو اړخونو ترمنځ د اعلاميې په تړاو ارګ نظر نه دی څرګند کړی دی.

د خليلزاد د وروستي سفر څو مهم هدفونه: لومړی دا چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د هوکړې متن له حکومت سره شريک کړي. که څه هم حکومت په دې متن کې د تعديل حق نه لري، خو امريکا په دې کار سره غواړي ولسمشر غني ته يو ډاډ ورکړي چې د دوی خلاف څه پکې نشته. دويم؛ خليلزاد غواړي د بين الافغاني خبرو لپاره د افغاني پلاوي د ټاکلو مسئله حل کړي. که څه هم حکومت وايي چې پلاوی يې ټاکلی، خو له شک پرته چې د حکومت په دننه کې او دغه راز د حکومت او سياستوالو او سياسي ګوندونو ترمنځ د دې پلاوي د غړو او څرنګوالي په تړاو ژور اختلافات دي. يو اختلاف پر دې دی چې په دې پلاوي کې به څوک ګډون کوي؟ دويم اختلاف پر دې دی چې دا پلاوی به کوم واکونه او صلاحيتونه ولري؟ د سياستوالو، سياسي ګوندونو او آن امريکا غوښتنه دا ده چې دا پلاوی بايد د پرېکړې صلاحيت ولري، خو ولسمشر غني بيا غواړي چې پلاوی يوازې د خبرو صلاحيت ولري او پرېکړې به د ولسمشر غني له رضايت وروسته کېږي. له همدې امله دا اختلاف پر ځای دی او خليلزاد هڅه کوي چې دا ستونزه حل کړي. درېيم؛ خليلزاد غواړي حکومت ته پيغام ورکړي چې که سوله کېږي، ټاکنې بايد وځنډول شي. که څه هم خليلزاد حکومت ته په آمرانه انداز د ټاکنو د نه کولو نه وايي، خو پيغام به يې همدا وي چې ټاکنې ونه شي. څلورم؛ خليلزاد غواړي له حکومت سره پر هغه اعلاميه يا سند هم خبرې وکړي، چې ټاکل شوې د طالبانو او امريکا ترمنځ د هوکړې له لاسليک وروسته، د امريکا او حکومت ترمنځ لاسليک شي. ولسمشر غني ويلي وو چې داسې څه به نه لاسليک کېږي، خو عبدالله عبدالله ويلي وو چې ګډه اعلاميه ده، کار پرې شوی او ښه ده چې لاسليک شي. اوس به خليلزاد هڅه وکړي چې دا اعلاميه يا سند وروستی کړي او حکومت ته به ووايي چې له طالبانو سره له هوکړې وروسته به د افغان حکومت او امريکا ترمنځ اړيکې د همدې سند يا اعلاميې پر اساس تنظيمېږي.

راتلونکې څو ورځې به وښيي چې خليلزاد څومره کولی شي دغو اهدافو ته ورسېږي او ولسمشر غني قانع کړي.

# افغانستان؛

## د خپلواکۍ په سلو کلونو کې لويې تېروتنې او پايلې يې

ليکنه: مشتاق رحيم

د بهرنيانو پټې او ښکاره مداخلې په افغانستان کې څو ځله نظامونه نړولي دي. د غازي امان الله خان په مشرۍ د هغه وخت له برېټانوي ښکېلاک يا استعماره خپلواکي تر لاسه کول د افغانانو يوه ستره لاسته راوړنه وه. خو پوښتنه دا ده چې ولې افغانان ونه توانېدل چې دا ستره ملي لاسته راوړنه د هېواد د پرمختګ او پر خپله خاوره د تل پاتې ټيکاو لپاره وکاروي؟

هغه کوم لاملونه وو چې له کبله يې له خپلواکۍ وروسته په تېرو سلو کلونو کې په افغانستان کې پنځه يا شپږ ځله نظام په بل مخ واړول شو او هېواد د کړکېچ خوا ته ولاړ؟

دا پوښتنې ښايي ډېر ځوابونه ولري، خو که په بېلابېلو دورو کې د واقعيتونو او شرايطو څېړنه وشي، نو درې داسې بنسټيز لاملونه وو چې په افغانستان کې يې نظامونه نړولي. همدې لاملونو په دې هېواد کې د حکومتولۍ د تداوم او اصلاحي پروګرامونو د پلي کېدو مخه نيولې ده.

**۱ـ د سياسي موخو لپاره مذهب کارول**

لومړی لامل دا بللی شو چې په افغانستان کې ډلو ټپلو د مذهب له ادرسه په ولس کې ځان ته د مشروعيت موندلو هڅه کړې ده. دوی له همدې ادرسه خپلو سياسي موخو ته د رسېدو هڅه هم کړې ده او لا يې هم کوي. افغانان په ټوله کې د کلکې عقيدې خاوندان دي، پر خپلو باورونو باندې کلک ولاړ دي او خپلو مذهبي شعايرو ته تل درناوی لري.

افغانان په ټوله کې د کلکې مذهبي عقيدې خاوندان دي. همدا لامل دی چې افغانان سره له دومره ډېرو ناخوالو او سره له دې چې له بېلابېلو پرګنو او قومي ډلو سره تړاو لري، د ملت په توګه يو ځای پاتې شوي دي.

خو د افغانانو همدا مذهبي يا عقيدوي ځانګړنه ځينې وخت د دې لامل هم شوې ده، چې بهرنيان يې په چارو کې مداخله وکړي. دا مداخله ځکه شوني وه چې افغان ټولنه په سيمه او نړۍ کې د وخت له حالاتو او بدلونونو ناخبره وه. بې له شکه چې افغان چارواکو يا د وخت حکومتونو هم د خپلو ناسمو تګلارو له کبله د بهرنيانو مداخلې ته زمينه برابره کړې ده.

خو ايا د بدلون لپاره دې ته اړتيا وه چې افغانان د مذهب په نامه وکارول شي او له کبله يې د افغانستان نظامونه تش نس شي؟

**۲- د واک او امتياز تنده**

په افغانستان کې د ټيکاو او پرمختګ پر وړاندې دويم خنډ دا و چې په کور دننه سياستوالو، قومي مشرانو، مذهبي نخبه ګانو او روحانيونو د واک تر لاسه کولو يا امتياز اخيستلو شوق درلود.

ځينو افغان مشرانو واک ته د رسېدو لپاره د نظام له نړولو هم ډډه نه ده کړې. هسې خو د هيوادونو په سياست کې د افرادو او ډلو لخوا د واک د تر لاسه کولو لپاره هلې ځلې معمول دي او هره ډله فکر کوي چې د دوی تګلاره تر نورو ښه او ګټوره ده.

خو په افغانستان کې دې کسانو د واک تر لاسه کولو لپاره ان د نظام له نړولو هم ډډه نه ده کړې او د دې موخې لپاره يې د بهرنيانو مرسته هم منلې ده.

د امان الله خان پر وړاندې له انګريزانو، د داوود خان پر وړاندې توسعه غوښتونکي شوروي اتحاد او د کمونيستي رژيمونو پر ضد د افغانستان سيال پاکستان له ځينو افغانانو سره پټه او ښکاره مرسته کړې ده.

**۳-خپلمنځي اختلافات**

درېيمه بدمرغي چې د افغانستان په تېر سل کلن تاريخ کې په وار وار تکرار شوې ده، هغه د سياسي اشخاصو او ډلو خپلمنځي اختلافات وو.

په هره دوره کې د يو فکري خط خلک د خپلو ايډيالوژيکو موخو د خوندي کولو په مزل کې په نيمه لار کې د يو بل پر وړاندې درېدلي دي.

د تېرو سلو کلونو په اوږدو کې د افغانستان نظام کله هم په مخامخ توګه د باندنيو توطيو له کبله نه دی ړنګ شوی. هر ځل داسې شوي چې په کور دننه ډلو د خپلمنځي اختلاف له کبله بهرنيانو ته د مداخلې او د نظام د نړولو فرصت ورکړی دی.

د امان الله خان هغه ملګري چې له ده ګيله من وو، د ده پر ضد له حبيب الله کلکاني سره د انګريزانو په مشوره ودرېدل. د چپي ګوندونو هغو مشرانو چې داوود خان ورته د فعاليت زمينه برابره کړې وه، د واک تر لاسه کولو لپاره داوود خان وواژه.

چپي ګوندونه وروسته خپلو کې سره وران شول او په خلق او پرچم وويشل شول او پرچم هم بيا وروسته د کارمل پالو او نجيب پالو ترمنځ د اختلافاتو ښکار شو. مجاهدين هم د يوې موخې په لټه کې له اوو ادرسونو جنګېدل چې وروسته بيا په خپلو کې سره ونښتل.

په تېرو سلو کلونو کې د همدې تېروتنو تکرار دا ښيي چې افغانانو له خپل تېر تاريخ زدکړه نه ده کړې.

داوود خان د چپي ګوندونو لخوا په يوه خونړۍ کودتا کې ووژل شو. له همدې امله د امان الله خان په مشرۍ د خپلواکۍ تر ګټلو سل کاله وروسته هم افغانان او هېواد يې په ډېرو ستونزو کې ګير دي.

افغان سياستوال او ولس بايد د خپلواکۍ د سلمې کليزې په درشل کې په ګډه د خپل تېر تاريخ نمانځلو ترڅنګ، خپلو تېروتنو ته هم بيا کتنه وکړي او خپل راتلونکی وژغوري.

افغانستان همدا اوس د خپل تاريخ له يوه بل ډېر حساس پړاو څخه تېرېږي او که پخوانۍ تېروتنې تکرار شي، نو نظام يې يو ځل بيا له ګواښ سره مخ کېدلی شي.

## د بلخ د ځينو ولسواليو خلک په دنده کې د ولسوالانو د ناغېړۍ له کبله له ستونزو سره مخ دي



د بلخ اوسېدونکي او د دغه ولايت د ولايتي شورا غړي وايي چې د ياد ولايت د ځينو ولسواليو ولسوالان خپلې رسمي چارې له مزارشريف ښار څخه پر مخ وړي.

دوی زياتوي چې له همدې امله په ولسواليو کې د دولتي خدماتو رسولو چارې ټکنۍ شوې او خلک له ډول ډول ستونزو سره مخ دي.

د بلخ ولايتي شورا مرستيال وايي چې د دغه ولايت د اتو ولسواليو ولسوالان په اونيو اونيو هم خپلو دندو ته نه ور ګرځي، خو د بلخ ولايت مقام بيا دا خبره ردوي او وايي چې يوازې د چمتال او چهاربولک ولسواليو ولسوالان په لنډمهاله توګه خپلې چارې له مزارشريف ښار څخه پر مخ وړي.

بلخ د هېواد په شمال کې له ځانګړي سياسي او اقتصادي اهميت څخه برخمن ولايت دی، چې په دې وروستيو کې د سختو جګړو شاهد پاتې شوی دی. دغه ولايت ته ورتلونکې لويې لارې نا امنيو ځپلې او په ځينو برخو کې يې وسله وال طالبان واکمن دي.

په بلخ کې د مسوولينو او عامو خلکو په خبره، دمګړۍ د دغه ولايت په نهو ولسواليو کې امنيتي وضعيت کړکېچن دی چې له امله يې په يادو ولسواليو کې د دولتي خدماتو وړاندې کول هم ټکني شوي دي.


د بلخ ولايتي شورا مرستيال سيد عبدالله مسرور پژواک خبري اژانس ته ويلي چې دمګړۍ د بلخ په چمتال، چهاربولک، خُلم، کلدار، شورتپه، دولت اباد، بلخ، کشندې او زارع ولسواليو کې سختې جګړې رواني دي.

نوموړي ويلي: «دهدادي او نهرشاهي ولسوالۍ چې تر مزارشريف ښار پورې اړوند دي او مارمل، چارکينت او د شولګر ولسوالۍ پنځوس سلنه خاوره کې څه نا څه امنيت ښه دی، په پاتې نهو ولسواليو کې جنګ دی او ولسوالان يې هم خپلې چارې له مزار ښار څخه پر مخ بيايي».

د دغه ولايت د ولايتي شورا د مرستيال په خبره، ولسواليو ته په تلونکو لارو کې د امنيتي مشکلاتو له امله ولسوالان او د ولسواليو نور اداري کارکوونکي نه شي کولای چې خپلو دندو ته حاضر شي.

مسرور زياتوي چې ځينې ولسوالۍ په بشپړ ډول د طالبانو په لاس سقوط دي او يوازې د ولسوالۍ او قوماندانيو ودانۍ يې د حکومتي ځواکونو په لاس کې دي.

## <u>نيويارک ټايمز:</u> د سپينې ماڼۍ مشاورينو په افغانستان کې د(CIA) د پټ حضور وړانديز کړی



د راپورونو له مخې، په سپينه ماڼۍ کې چارواکي پر داسې يوې طرحې کار کوي چې له مخې يې په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو پر ځای، د سي آی اې تر قوماندې لاندې جنګيالي دندې پيل کړي.

نيويارک ټايمز ورځپاڼې د خپلو سرچينو په حواله ليکلي، چې د سپينې ماڼۍ مشاورانو د (CIA) د پټ حضور د پراخولو وړانديز کړی، خو (CIA) او پوځي چارواکي په دې تړاو ځينې ملاحظات لري.

نيويارک ټايمز وايي، د دې طرحې پر اساس به هغو ځواکونو ته چې کلونه يې په افغانستان کې د امريکا د استخباراتي ادارې تر چتر لاندې فعاليت کړی، له القاعدې او داعش سره د مبارزې په بهانه مهم نقش ورکول کېږي او د امريکايي ځواکونو ځای به نيسي.

سره له دې چې له دې طرحې د سپينې ماڼۍ چارواکو ملاتړ کړی، نيويارک ټايمز وايي چې د سي ای اې مشره او مهم امريکايي جنرالان له دې طرحې سره مخالف دي.

ويل کېږي چې د دې طرحې د مخالفانو استدلال دا دی چې دغه ځواکونه د عملياتو پر مهال هوايي ملاتړ ته ضرورت لري او دويم دا چې د لوېديځ پر وړاندې د داعش او القاعدې تهديد هومره جدي نه دی، چې د CIA تر چتر لاندې نوي جنګيالي فعاليت وکړي.

د نيويارک ټايمز په باور، په متحده ايالتونو کې د دې طرحې په تړاو اختلاف ښيي چې په امريکا کې د ننه هم له افغانستانه د ځواکونو د وتلو او پاتې کېدو په تړاو ژور اختلاف موجود دی.

نيويارک ټايمز ليکلي: «دا مسئله کولی شي چې د طالبانو او متحده ايالتونو ترمنځ روانو او اوږدو مذاکراتو پر وړاندې، چې د جګړې د پای ته رسولو په هدف تر سره شوي، خنډونه جوړ کړي. طالبانو په ډاګه ويلي چې د امريکايي ځواکونو او CIA کسانو ترمنځ توپير نشته او طالبانو په مذاکراتو کې ټينګار کړی چې د CIA استخباراتي کسان دې يو ځای له امريکايي ځواکونو سره ووځي».

نيويارک ټايمز دغه راز ليکلي، که څه هم له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو په تړاو مذاکراتو کې مفصلې خبرې شوې، خو په دغه هېواد کې د CIA تر نظارت لاندې پوځيانو د حضور او له هغوی د امريکا د ملاتړ په تړاو څه نه دي ويل شوي.

خو نيويارک ټايمز د CIA تر چتر لاندې د دغو ځواکونو د حضور په تړاو ليکلي، چې دغه ځواکونه به د متحده ايالتونو او افغان حکومت په ملاتړ فعاليتونه او د ترهګرۍ خلاف به مبارزه کوي.

# د پاکستان حکومت ولې د بابړې پښتانه ووژل؟

لیکنه: صفیه حلیم

په ۱۹۴۸ ز کال کې د هند له وېش وروسته، د پاکستان مشر (ګورنرجنرال) محمد علي جناح لومړی سیاسي فیصله په صوبه سرحد کې د پښتنو منتخب حکومت فسخ کول وو. د دې مشر وزیر ډاکټر خان صاحب (د باچا خان ورور) یې برطرف او پر ځای یې د مسلم لیګ ګوند سردار عبدالقیوم خان ته د حکومت جوړولو اختیار ورکړ. عبدالقیوم یو نامتو وکیل او په صوبه کې مخور کس و. هغه د امنیت ساتلو لپاره په ټوله صوبه کې د قانون ۱۴۴ دفعه (ماده) اعلان کړه چې د هغې تر مخه له ۴ نه زیات کسان په یو ځای نه شي غونډېدی. له دې پرته عبدالغفار خان او نور پښتانه مشران یې په جیل کې بند کړل. د دې قانون له مخې، د حکومت لخوا که یو کس ونیول شو، نو هغه به تر نامعلومې مودې په بند کې ساتل کېدو او د هغه مال به یې ضبطوو. د دې لپاره هېڅ ډول ثبوت ته هم اړتیا نه وه. صاحبزاده محمد خورشید هغه وخت د صوبې ګورنر و او د هغه وینا دا وه چې پخپله محمد علي جناح ورته د دې قانون د پلي کولو امر کړی و. په سوونو نېشنلېستان ونیول شول، شکنجه یې کړل او د دوی جایداد یې سرکاري کړ. مهمه خبره دا وه چې د نیول شوو کسانو، نه ضمانت کېدو او نه یې په محکمه کې دفاع کېدای شوی.

د دې قانون خلاف، ملت پاله ګوند پاتې مشرانو له چارصدې نه بابړې ته د مارچ پلان جوړ کړو. دا خبر لویو ورځپاڼو ته هم ورکړل شو او ټولو ګډون کوونکو ته ویل شوي وو، چې هغوی به تش لاس مظاهرې ته راځي ان تر دې چې د کوټک راوړو اجازه هم نه وه. ثرګنده نه ده چې د پولیسو مشر یا د والي لخوا له ملت پالو مشرانو سره د مظاهرې د نه کولو خبرې وشوې یا هغوی له دې کار نه منع شول که نه؟

په هغه میاشت کې د پاکستان د جوړېدو کال پوره کېدونکی و او په حکومتي دفترونو کې د نمانځنو تابیا کېده. د اګست په ۱۲مه، د چارصدې خلک د بابړې په میدان کې راټول شول. د پولیسو وینا دا وه چې هغوی خلکو ته د خپلو کورونو ته د تلو وویل او دا چې د ډېرو خبرداری یې ورکړو. خو خلک هم هغسې میدان ته روان وو. په دې وخت کې د پولیسو مشین دار ګاډي له میدان نه راتاو شول. عبدالقیوم خان پخپله هم د پولیسو په بدرګه هلته راورسېدو. پولیس له ټوپکو سره د مظاهره کوونکو مخې ته ودرېدل او اخر چې دوی له خپل ځای نه ونه خوځېدل، نو ډزې یې پیل کړې. هغه وخت د ملت پالو یو سالار امین جان راورسېدو او خلک یې له وړاندې تلو نه منع کړل.

د کلي ښځو چې د ډزو غږ واورېدو، نو قرانونه په سر بابړې ته یې مخه کړه. هغوی پولیسو او پوځ ته زارۍ کولې او قران یې ورته وړاندې کوو چې له ګولۍ چلولو دې لاس واخلي. خو ډېرې ښځې هم په میدان کې ووژل شوې. له پولیسو سره کارتوس خلاص شول، نو پوځ د مشین ګڼو خولې پرانیستې. په درېیمه حمله کې یې څو لاسي بمونه ورباندې وغورځول. تر ۴۵ دقیقو په بې وسلې ولس دغه ناتار روان و. کله چې لوګي او دوړې کېناستې، نو د مړو او ژوبلو کسانو په راټولولو لاس پورې شو. له ٦ تر ۷ سوو خلکو جنازې پورته شوې. له ۱۰۰۰ نه تر ۱۲۰۰ پورې کسان ټپیان وو. حیرانوونکې خبره دا وه چې په بابړه کې ژوبل شوي کوم کسان چې د علاج لپاره هسپیټالونو ته یې یوړل، نو له هغوی نه د علاج تر څنګ، د هغو کارتوسو پیسې هم واخیستل شوې په کومو چې ویشتل شوي وو.

د سترګو لیدلي وایي چې د مړو شمېره ۱۳۰۰ ته رسېده، ځکه د شاوخوا ۲۵۰ کسانو مړي یې جینډي سیند ته غورځولي وو.

له پېښې وروسته پولیسو به کور په کور چاپې وهلې او د مړو خپلوانو ته به یې ویل چې د دوی سړې څنګه دې مظاهرې ته لاړل او ولې یې بهر پرېښودل؟ د پولیسو له وېرې ډېرو خلکو خپل مړي په پټه خښ کړل او دا یې نه ویل چې هغوی په مظاهره کې وژل شوي وو. ممکن د دې پېښې د مړو او ژوبلو شمېره کله هم معلومه نه شي.

تر دې ناوړه پېښې یوه میاشت وروسته، مشر وزیر عبدالقیوم خان په صوبای اسمبلۍ کې د خپل ځان په دفاع کې وویل: "ما په بابړې کې د قانون ۱۴۴مه ماده اعلان کړې وه. کله چې خلک تیت نشول، نو په دوی ګولۍ وچلول شوې. دا خلک ډېر خوش قېسمته وو، ځکه له پولیسو سره ګولۍ خلاصې شوې، که نه، یو سړی به هم ژوندی نه وی پاتې شوی».

د دې خونړۍ پېښې یو تصویر ښایي چې تر لومړیو ډزو وروسته هم خلک پر خپل ځای ولاړ وو. دا پېښه که بل ځای شوې وای، نو ممکن ډېر کتابونه به ورباندې کښل شوي وی. خو تر اوسه پخپله ملت پالو ډلو د بابړې په اړه نه د پلټنو تکلیف کړی دی او نه یې دا معلومه کړې ده، چې په دغه پېښه کې څومره کسان مړه او ژوبل شول. په دې اړه لیکلي معلومات هم په نشت حساب دي او څه چې خلکو پخپلو سترګو ولیدل، یوازې هغه راپاتې دي. تر ټولو لویه پوښتنه دا ده چې د قانون له ۱۴۴مې مادې څخه د دوی مشران خبر وو، خو بیا یې هم خلک راوویستل. د پېښې ټوله پړه پر عبدالقیوم خان اچول دا حقیقت نه شي پټولی، چې ملت پاله مشرانو لاسونه هم د بې ګناه ولس پر وینو رنګ دي.

# د سولې هوکړه؛

## خلیلزاد: د ټرمپ تر تایید وروسته په ۱۳۵ ورځو کې له پنځو اډو زرګونه عسکر وباسو



د سولې طرحه له افغان حکومت سره شریکه شوې ده. د ارګ او سپېدار ماڼۍ د معلوماتو له مخې، زلمي خلیلزاد له افغان چارواکو سره کتلي دي او له طالبانو سره یې د نهم پړاو د خبرو جزیات له افغان چارواکو سره شریک کړي دي. ویل کېږي چې د سولې طرحه هم له افغان حکومت سره شریکه شوې ده او افغان چارواکي به پر دغه طرحه بحثونه کوي، چې بیا به خپل نظر له زلمي خلیلزاد سره شریکوي.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې نهم پړاو مذاکرات خورا اوږده شول. ټولو دا تمه لرله چې په دې دور مذاکراتو کې به د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه رامنځ ته کېږي او تر دې هوکړې وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیلېږي. خو له تمې سره سره، دغه خبرې اوږدې شوې او هوکړه لاسلیک نه شوه. اوس زلمی خلیلزاد کابل ته راغلی دی او د خپلو مذاکراتو جزیات یې له ولسمشر غني او اجرایه رییس سره شریک کړي دي. له ولسمشر غني سره په لیدنه کې زلمي خلیلزاد ویلي، دوی په افغانستان کې د دایمي سولې د راتګ لپاره هڅه کوي. د ده په خبره، دوی غواړي چې دلته روانه جګړه پای ته ورسول شي او په هوکړه کې هم ټینګار د جګړې پر پای ته رسولو دی.

د ارګ او سپیدار ماڼۍ په خبرپاڼو کې دا نه دي راغلي چې په دې هوکړه کې پر کومو موارد‌و توافق شوی دی، خو د ولسمشر غني ویاند وایي چې هوکړه د افغان چارواکو تر بحث لاندې ده او تر څېړنې، مطالعې او ارزونې وروسته به خپل نظریات له زلمي خلیلزاد سره شریک کړي. د صدیق صدیقي په خبره، افغان حکومت د سولې پروسې ملاتړ کوي، خو هغه سوله چې په هېواد کې د روانې جګړې د پای ته رسولو او دایمي ثبات سبب شي. ده د هوکړې د موادو په اړه معلومات نه دي ورکړي، خو پر دې ټینګار کوي چې په هوکړه کې د اوربند او بین الافغاني مذاکراتو په اړه هم توافق شوی دی.

صدیق صدیقي یو ځل بیا ټینګار وکړ چې ټاکنې به هم پر خپل وخت تر سره کېږي. د ده په خبره، سوله مهمه ده؛ خو ولسمشریزې ټاکنې د خلکو حق دی او پر ټاکلې نېټه به تر سره شي. افغان حکومت یو ځل بیا داسې مهال پر ټاکنو ټینګار کوي، چې طالبانو د ټاکنو د مخنیوي خبره کړې ده. د دوی په خبره، ټاکنې د جګړې د دوام په مانا دي او دوی به په ټول توان د دغو ټاکنو مخنیوی وکړي.

تازه د طالبانو ویاند سهیل شاهین په یوه مرکه کې بیا د سولې نهم پړاو مذاکرات له بریاوو او پرمختګونو ډک بللي دي. د هغه په خبره، دواړه لوري پر مهمو مسایلو هوکړې ته رسېدلي دي، خو هغه واضح کړې نه دي چې له امریکا سره پر کومو مسایلو هوکړه شوې ده. ده ټینګار کړی چې له امریکا سره تر هوکړې وروسته به بین الافغاني مذاکرات پیلېږي او پر نورو مسایلو به په دغو مذاکراتو کې خبرې کېږي.

افغان حکومت وایي چې د هوکړې په اړه پرېکړه کول وخت نیسي او تر پوره غور او ارزونې وروسته به خپل نظر له زلمي خلیلزاد سره شریک کړي. د ارګ د عامه اړیکو سلاکار وحید عمر وایي، له زلمي خلیلزاد سره به د هوکړې په اړه بحثونه دوام وکړي. له دې ښکاري چې دغه هوکړه نهایي شوې نه ده او که افغان حکومت یې پر ځینو موارد‌و اختلاف ولري، ښایي د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې د اختلافاتو د حل په موخه بیا هم وغځول شي.

زلمی خلیلزاد به په کابل کې تر بحثونو وروسته، اسلام اباد ته ځي. پاکستاني رسنۍ وایي چې هغه به د سولې وروستي پرمختګونه له پاکستاني حکومت سره شریکوي او له اسلام اباده به ناټو ته ځي، څو له دوی سره هم هوکړه او د نهم پړاو مذاکراتو جزیات شریک کړي. لا هم نه ده روښانه شوې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ به د سولې هوکړه کله او چېرته لاسلیک شي.

# د جرمني ولسمشر په پولنډ کې د خونړي ناورین له کبله د دغه هېواد له خلکو بښنه غوښتې



د جرمني ولسمشر د پولنډ په ویلون ښار کې د تاریخ د خونړي ناورین له امله د دغه هېواد له خلکو بښنه غوښتې.

د جرمني ولسمشر فرانک والټر شټاین مایر چې له خپل پولنډي سیال اندژی دودا سره یو ځای د پولنډ ویلون ښار ته تللی و، د دغه ښار خلکو ته یې په خطاب کې ویلي چې د ویلون ښار د قربانیانو پر وړاندې د درناوي په دود سر ټیټوي او د بښنې غوښتونکی دی.

نوموړي ویلي: «زه ستاسې پر وړاندې ولاړ یم، څوک چې ژوندي پاتې دي، د وژل شویو وارثینو، سپین ږیرو، ځوانانو او د ویلون اوسېدونکو، زه د منني او شرمنده‌ګۍ په حالت کې ستاسې پر وړاندې ولاړ یم، زه د پولنډ په قربانیانو د جرمني د ظلم له امله دوی ته د درناوي په دود سر کښته کوم او بښنه غواړم».

په ورته وخت کې د پولنډ ولسمشر اندژي دودا پر پولنډ د المان د نازیانو برید یو وحشیانه عمل بللی او په کلکه یې غندلی دی.

ده ویلي، دوی نه شي کولی چې دویمه نړیواله جګړه هېره کړي، که څه هم د دې جګړې شاهدان اوس نشته، خو دا ترخې خاطرې باید خوندي شي، څو دا ډاډ تر لاسه شي چې په دویمه نړیواله جګړه کې چې په ویلون او د پولنډ په نورو ښارونو کې او ورڅخه بهر کومې پېښې چې رامنځته شوې، نه تکرارېږي.

د یادونې ده چې په دویمه نړیواله جګړه کې د دریو میلیونو یهودیانو په ګډون، شپږ میلیونه پولنډیان هم ووژل شول چې د یادې جګړې ټول تلفات ۵۰ میلیونو کسانو ته رسېدل.

دا په داسې حال کې ده چې شټاین مایر او د نورو حکومتونو او دولتونو مشران پولنډ ته د دویمې نړیوالې جګړې د پیل د ۸۰یمې کلیزې یادغونډې ته ورغلي وو.

د امریکا د ولسمشر مرستیال مایک پېنس د پولنډ خلک وستایل او ویې ویل چې د پولنډ د خلکو شخصیت، اعتقاد او ژمنې دا خلک متفاوت ګرځولي او ټینګار یې وکړ چې امریکا او پولنډ له خپلو نورو متحدانو سره د دفاع په برخه کې د یو بل تر څنګ ولاړ دي.

پېنس دا هم ویلي چې امریکا د خپلو متحدانو په غوښتنه، د خپلو ژمنو د تر سره کولو لپاره پر دفاعي برخه ټینګار کوي.

ټاکل شوې وه چې په دغه غونډه کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ګډون وکړي، خو نوموړي د دوریان په نوم د توپان له امله چې د امریکا د سواحلو پر لور په حرکت کې دی، خپل سفر لغوه او مرستیال یې دغې غونډې ته لېږلی.

د یادونې ده چې د ۱۹۳۹ ز کال د سپټمبر په لومړۍ د المان د نازیانو لخوا د پولنډ اشغال د دویمې نړیوالې جګړې پیل و.

## د کتاب خبرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### درېیم څپرکی
### د طالبانو قدرت




((له عربو څخه چې هر څوک په فلسطین کې جهاد کولای شي ویې دې کړي، که یې په فلسطین کې نشي کولای، بیا دې په افغانستان کې له نورو پاتې مسلمانانو سره یو ځای په جهاد کې برخه واخلي. موږ باید له افغانستان څخه پیل وکړو، په دې مانا نه چې افغانستان له فلسطین څخه مهم دی نه، اصل ستونزه فلسطین دی، هغه د اسلامي نړۍ مرکز دی، یوه پاکه ځمکه ده. په افغانستان کې جگړه روانه ده، اوس یې له بل هر وخت ډېر زور اخیستی دی. لا هم په افغانستان کې حالات د مجاهدینو په لاس کې دي. درې زره (۳۰۰۰) کیلومتره پراخه پوله پرانیستې ده، د پولې شاوخوا قبایلي سیمې د هېڅ دولت سیاسي نفوذ لاندې نه دي. دا سیمې د مجاهدینو لپاره خورا خوندي دي، خو په فلسطین کې حالت په بشپړه توگه توپیر کوي.))

که څه هم له دې ځوانو نړیوالو مسلمانو بنسټپالو څخه یې ډېری عربان وو، خو د ۱۹۸۰ز لسیزې په افغان جهاد کې له مراکش څخه هم راغلي وو. دا ډېری جنگیالي د مکتبه الخدمت له لارې چې مشري یې د عبدالله عزام په غاړه وه، سره یو ځای شوي وو. ډېری جنگیالي له افغانستان څخه د شورویانو له وتلو، ۱۹۸۹ز کال او د کمونیست رژیم له ویجاړېدو، تر ۱۹۹۲ز کال پورې خپلو هېوادونو ته لاړل. د هغوی له ډلې یې ځینې پاتې شول چې په کورنۍ جگړه کې یې هم برخه لرله، خو هغوی په ۱۹۸۹ز کال وروسته له هغه بې رهبره شول چې عبدالله عزام په پېښور کې د یوه مسجد مخکې په یوه بمي چاودنه کې ووژل شو. له دې کسانو څخه ډېریو یې په خپلو هېوادونو کې جرمونه کړي وو، هېڅ داسې سازمان نه و چې هغوی په خپلو هېوادونو او په نړیواله کچه سره منظم او ور ټول کړي.

د زرگونو عرب جنگیالیو په منځ کې یو دنگ، ډنگر او شرمناک سعودی عرب هم و چې عبدالله عزام ته یې خپل استاد ویل، نوموړی اسامه بن لادن د محمد بن لادن زوی و، په اصل کې د یمن اوسېدونکی و، خو کورنۍ یې له ډېر پخوا وخته په سعودي عربستان کې مېشته وه. وړوکې سوداگري یې پر لوی ودانیز شرکت اوښتې وه. هغه د السعود له کورنۍ سره هم اړیکې لرلې. که څه هم په افغان جگړه کې د اسامه بن لادن رول کمرنگه و، خو هغه د خپلې کورنۍ په نوم مخته تللی و. نوموړي په سویل ختیځ افغانستان کې افغان مجاهدینو ته تونلونه جوړ کړي وو او له عرب دواطلب جنگیالیو سره یې مرستې کولې.

اسامه بن لادن بېرته سعودي عربستان ته لاړ، هلته یې په ۱۹۹۰ز کال د السعود له کورنۍ سره مخالفت راغی، ځکه هغوی له کوېټ څخه د زورواکي صدام حسین د ویستلو لپاره د امریکا ملاتړ وکړ. بن لادن له سعودي عربستان څخه سوډان ته لاړ، هلته یې د اسلام پال حکومت مالي ملاتړ کاوه. پر هغوی د سعودي عربستان د فشار ډېرېدو له کبله افغانستان ته لاړ.

اسامه د ۱۹۹۶ز کال په مې میاشت کې د افغانستان ختیځ جلال‌اباد ښار ته مخه کړه، هلته یې د مجاهدینو د شورا تر ساتنې لاندې ژوند کاوه. د هماغه کال په سپټمبر کې کله چې جلال‌اباد ښار د طالبانو لاس ته ولوېد، اسامه بن لادن هم له طالبانو سره ملگری شو. نوموړی د ۱۹۹۶ز کال په ژمي کې کندهار ته ورسېد، هلته د طالبانو د نورو مشـرانو تر څنگ له ملا محمدعمر سره هم معرفي شو، د هغه د لویو پرمختیایي پروژو په اړه خبرو د طالبانو د مشـرانو پاملرنه ورته اړولې وه، خو له ژمنه شوو پروژو یې ډېر وروسته ډېرې لږې پلې شوې. ځینې راپورونه دا هم دي چې د سعودي او پاکستان د څارگرو په همکارۍ اسامه بن لادن له طالبانو سره وپېژندل. بن لادن له تحریک سره د ښې ملگرتیا په موخه د تحریک له مشـر ملا محمدعمر سره «بیعت» وکړ.

په افغانستان کې د بن لادن د اوسېدو له قضیې سره د سعودي عربو مخالفت نه کاوه. هغه مهال چې د ۱۹۹۵ز کال په نوومبر کې په ریاض بریدونه وشول او په ترڅ کې یې د پنځو امریکایانو په شمول شپږ کسان ووژل شول، ریاض د طالبانو هغه غوښتنه چې له مخې به یې اسامه بن لادن ریاض ته په لاس ورکوي رد کړه.

بن لادن توانېدلی و چې د طالبانو ځینې مشـران خپل نظر ته ور مات کړي. که څه هم د طالبانو د ځینې مشـرانو له لوري په نوموړي پټې نیوکې کېدې، خو له ملا محمدعمر سره یې ښو اړیکو هغه دومره ځواکمن کړی و چې هېڅوک یې پر وړاندې نشو درېدلای. ملا محمدعمر د اسامه بن لادن د کورنۍ او نورو ملگرو لپاره د اوسېدو ځایونه ورکړي وو. هغه له افغانستان څخه له مصري بنسټپالو سره چې مشـري یې د ایمن الظواهري پر غاړه وه، اړیکې جوړې کړې. وروسته یې په ۱۹۹۰ز لسیزه کې له چیچنیایي، د مرکزي اسیا، چینایي ترکستان، سویل ختیځي اسیا او اروپا له اسلام پالو سره د نړیوال جهاد په موخه اړیکې وغزولې.

په ۱۹۹۸ز کال د طالبانو له برياوو سره هم مهاله القاعده هم راپورته شوه. طالبانو د هماغه کال تر اگسټ میاشتې پورې د افغانستان ډېری شمالي او مرکزي سیمې ونیوې، دا هماغه کال و چې القاعدې په کینیا او تانزانیا هېوادونو کې د امریکا متحدو ایالتونو پر سفارتونو بریدونه وکړل. دې بریدونو لوېدیځوالو پالیسي جوړوونکو ته د افغان جگړې د نړیوال اړخ لرلو د خطر زنگ ورکړ. هغوی د اسامه بن لادن په مشـرۍ د لوېدیځوالو ضد نړیواله اسلام پاله شبکه چې د القاعدې په نوم یادېده، اعلان کړه. اسامه بن لادن طالبانو ته پر سفارتونو د بریدونو او لویو موخو په اړه نه وو ویلي، خو د احمد شاه مسعود پر ضد یې د عربي جنگیالیو مالي ملاتړ کاوه.

**دوام لري...**

# محمد اکبر ایازي

شفیق امیرزی



ښاغلی محمد اکبر ایازي د محمد انور خان ایازي زوی او په ۱۹۵۴ ز کال کې په کندهار ښار کې زیږېدلی و. ماشومتوب یې په کندهار کې تېر کړ. د خپلې کورنۍ تر لارښوونې او پالنې لاندې یې ښوونځی پیل کړ او په همدې ښار کې له ښوونځي فارغ شو. په ښوونځي کې تر زده کړو وروسته، له خپلو ارمانونو سره سم پوهنتون ته بریالی شو او په کابل پوهنتون کې یې د اقتصاد پوهنځی پیل کړ. همدا مهال یې په ژورنالېستیکه برخه کې هم فعالیتونه تر سره کول. له اقتصاد څخه تر فراغت وروسته نوي ډیلي ته لاړ او هلته یې له جواهر لعل نهرو پوهنتون څخه په تخنیکي مدیریت کې ډیپلوم واخیست.

اکبر ایازي یو نرم مزاجه، خلاق، مسلکي او پر کار پوه خبریال و. ده سره له دې چې په مسلکي توگه ژورنالېزم نه و لوستی، خو تر لوستو کسانو یې په ژورنالېزم کې پراخه مطالعه او تجربه لرله. اکبر ایازي ښایي لومړنی افغان وي چې په نړیوالو رسنیو کې ډېرو مهمو مقامونو ته رسېږي او د ډېرو نړیوالو ژورنالېستانو ترمنځ ځانگړی ځای خپلوي.

اکبر ایازي لومړی په کابل کې له ملي راډیو ټلویزیون سره خبریالي پیل کړه. دی چې کله محصل و، له ژورنالېزم سره یې مینه وه. دا مینه تر ډېره ورسره وه، له ملي راډیو ټلویزیون سره یې لومړی د خبریال په حیث دنده پیل کړه. تر هغه یې دلته کار کاوه، چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ او مرحوم اکبر ایازي هم د زرگونو نورو افغانانو په څېر د هېواد پرېښودو ته اړ شو. اکبر ایازي له کابله امریکا ته ځي او په دغه هېواد کې تر دوه کاله بېکارۍ تېرولو وروسته په امریکا غږ کې دنده اخلي. دی وایي، د کار لومړۍ ورځ او هغه ورځ چې په امریکا غږ کې یې د کارې فرصت په اړه واورېدل، ډېر خوشاله و.

امریکا غږ هغه مهال د لومړي ځل لپاره په پښتو ژبه خپرونې پیل کړې. په افغانستان کې د شوروي یرغل روان و. جگړې شدیدې شوې وې. راډیو او رسنیو ته د چا لاسرسی نه و او ډېرو کمو خلکو راډیو درلوده. امریکا غږ اشنا راډیو چې کله پښتو نشرات پیل کړل، نو خلکو راډیوگانې پیدا کړې او د دې راډیو خپرونې به یې اورېدې.

اکبر ایازي په همداسې یوه وخت کې له اشنا پښتو برخې سره کار پیل کړ. دا مهال په دغه راډیو کې په نورو ژبو نشرات کېدل، خو د پښتو د نشراتو پیل و، نو ځکه یې کار هم ستونزمن او له کړېچونو ډک و. بلخوا له افغانستان سره د ژورنالېستانو اړیکه نیول، د معلوماتو ټولول او تر اورېدونکو رسول، دومره اسانه کار نه و. روسان واکمنان وو او د امریکا له هر ډول گام سره یې کلک مخالفت کاوه. ایازي د هغه وخت کارونه سخت او له ستونزو ډک یادوي. د ده په خبره، اوس ژورنالیستیک فعالیتونه د هغه وخت په پرتله په ځلونو اسانه، بې ستونزو او گټور شوي دي.

په دې کې شک نشته چې په جگړه ځپلو ټولنو کې رسنۍ د افکارو په روښانه کولو او پیاوړي کولو کې د پام وړ رول لري. نو دا چې په افغانستان کې جگړه وه او خلکو د نوو معلوماتو تنده خړوبول غوښتل، امریکا غږ ته پکار وه چې د دوی له ذوق او حالت سره سمې خپرونې ورته جوړې کړي. د دې کار سختي د مرحوم ایازي پر اوږو وه. هغه باید دا برخه مدیریت کړې وی او داسې خپرونې یې تولید کړې وی چې په جگړه ځپلې حالت کې د راډیو اورېدونکي ډېر کړي. اکبر ایازي یو خلاق انسان و، هغه بریالی شو چې د معلوماتي، ټولنیزو او گټورو خپرونو په تولید سره د امریکا غږ کارکوونکو او د دغه راډیو اورېدونکو ته خپل خلاقیت او لیاقت ثابت کړي. له هغې وروسته د ۱۴ کلونو لپاره ښاغلی ایازي په امریکا غږ کې کارکوونکی و او د پښتو برخې پیاوړی ژورنالېست و.

د امریکا غږ د معلوماتو له مخې، مرحوم ایازي په ۱۹۸٦ز کال کې د امریکا غږ راډیو د اسیایي څانگې مشر پروډیوسر وټاکل شو، چې تر ۲۰۰۲ ز کال پورې پر همدې دنده پاتې شو. نوموړی په ۲۰۰۵ ز کال کې د ازادي راډیو مشر وټاکل شو. بیا یې لس کاله دغه دندې ته ادامه ورکړه. مرحوم ایازي لس کاله په ازادۍ راډیو کې د افغانستان د څانگې رییس او دغه راز د مرکزي او جنوبي اسیا د څانگې د مشر په توگه دنده تر سره کړه. هغه له ترکیې نیولې تر افغانستان او پښتونخوا د ټولو سیمو لپاره او په ټولو ژبو د دغه رسنۍ خپرونې مدیریت کولې او د تنظیم مسوولیت یې درلود.

ښاغلی اکبر ایازي تر اوږده ځنډ وروسته په ازادي راډیو کې خپل کار پرېږدي او بېرته امریکا غږ ته ورگرځي. په ازادي راډیو کې ټول د ده په تگ خفه وي او داسې انگېري چې گواکې خپل خواخوږی او د کورنۍ غړی یې ترې تللی دی.

د ښاغلي ایازي تر ټولو مهمه ځانگړنه دا وه، چې د ژورنالېزم له چټک پرمختگ سره یې ځان همغږی کړی و. دی وایي، یو وخت د ژورنالېزم کار ډېر سخت و. کمپیوټري وسایلو او انټرنېټ ته دومره لاسرسی نه و، خو دوی خپل کار ته ادامه ورکوله او مبارزه یې کوله. تر دې چې عصري وسایل راغلل، د ژورنالېزم ډگر بدل شو او دوی هم ځانونه ورسره تازه او همغږي وساتل. ښاغلي ایازي نه یوازې دا چې ځان یې له عصر سره همغږی کاوه، بلکې نورو ته به یې هم د تازه والي او له عصر سره د همغږۍ زده کړې ورکولې. اکبر ایازي یو وخت په خپله یوه مرکه کې ویلي وو، ژورنالېزم یې مینه ده. د ده په خبره، له ډېر ماشومتوبه یې له ژورنالېزم سره مینه وه او همدې مینې اړ ایست چې خپلې موخې وپالي او د ژورنالېزم په ډگر کې لوړو پوړیو ته ورسېږي. اکبر ایازي وایي، هېڅ وخت یې د ژورنالېزم په برخه کې کار او د دې برخې مطالعه او نوو مهارتونو زده کړه نه ده پرې اېښې.

د امریکا غږ مشره آمندا بنټ وایي، ایازي د دوی د رسنۍ له غوره کسانو و. د نوموړې په خبره، د هغه غږ به د ټولو یادېږي او یوازې د خپلې کورنۍ مشر نه و، بلکې د امریکا غږ د کورنۍ غړی و او ټول به ورپسې خفه وي. د امریکا غږ مسوولین وایي، هغه یو خلاق شخصیت و چې د ده په څېر زحمتکشه کسان به ډېر کم پیدا شي او ځای به یې د تل لپاره خالي وي.

ښاغلي ایازي نه یوازې دا چې د هېواد په سختو حالاتو کې خلکو ته د معلوماتو د رسولو مسوولیت درلود، بلکې په دردناکو شپېو کې یې په خپلو ښکلو شعري دکلیمو د خلکو تنده او ذوق هم خړوباوه.

اکبر ایازي په هېواد کې د نوي دور له پیلېدو سره سم، د ژورنالېزم په برخه کې د فعالینو په هڅولو او دې برخې ته د خلکو د پام را اړونې لپاره د پام وړ هڅې کړې دي. هغه مهال په افغانستان کې یوازې نړیوالو رسنیو فعالیت درلود، خو ورو ورو په کور د ننه خصوصي رسنۍ هم فعالې شوې. دی د هغو کسانو له ډلې و، چې د ژورنالېزم او بیان د ازادۍ لپاره یې هڅې کولې او خلک یې په دې برخه کې پانگونې ته هڅول. اکبر ایازي لومړنی کس دی چې په افغانستان کې یې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ترمنځ مناظره جوړه کړه او دغه مناظره به یې چلوله. هغه په دې توگه غوښتل افغان ولس ته د بیان د ازادۍ ارزښت روښانه کړي او دوی باوري کړي چې کولی شي له دې لارې خپل غږ اوچت کړي.

افغان لیکوال ښاغلی نجیب الله منلی وایي، د ژورنالېزم په برخه کې د افغانستان لپاره د ښاغلي ایازي کارونه د ستاینې وړ دي. د ده په خبره، ده یو واحد او معلوم دریځ درلود او د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال یې په مناظرو کې ثابته کړه، چې خپل دریځ لري او ډېر مهم بحثونه یې وچلول.

پخوانی ژورنالېست او تکړه لیکوال نبي مصداق بیا وایي چې ښاغلی ایازي یو پیاوړی شخص و او د کار ډېر ظرفیت یې درلود. د ده په خبره، دوی په نړیوالو رسنیو کې د یوې یوې ژبې د څانگې مدیریت کاوه، خو ایازي په پراگ کې تر لسو د ډېرو ژبو د خپرونو مسوول و او د دې څانگې مشري یې کوله.

هغه له تنکۍ ځوانۍ د ژورنالېزم په برخه کې کار وکړ او د ژوند تر وروستۍ شېبې یې له ژورنالېزم پرته په بله برخه کې دنده نه لرله. هغه اخلاصمن، بې تعصبه او د ستر فکر خاوند و.

نوموړی پر دې باور و چې ځوانان کولی شي د هېواد ماته بېړۍ ساحل ته ورسوي. د ده په خبره، اوس د انټرنېټ عصر دی، خو افغان ځوانان له دې وسایلو سمه گټه نه پورته کوي. ده به تل ټینگار کاوه، چې ځوانان باید له ټکنالوژۍ د هېواد پرمختگ، سولې او یووالي لپاره کار واخلي. پخپله یوه مرکه کې وایي، هغه ځوانان چې په بهرنیو هېوادونو کې دي، د دوی مسوولیت دی چې د نورې نړۍ معلومات تر خپلو خلکو ورسوي. دی پخپله هم د ټولنیزو رسنیو فعال و. په ټوېټر کې به یې تل د افغانستان د وضعیت په اړه معلومات خپرول او د ستونزو د حل لپاره به یې خپل نظرونه څرگندول.

ایازي نه یوازې د ژورنالېزم په برخه کې فعالیت کاوه؛ بلکې له نړیوالو سره یې د افغانستان د وضعیت په شریکولو کې سلگونه مرکې کړې دي. هغه په پښتو، دري او انگلیسي ډېرې روانې خبرې، لیکل او لوستل کول. هغه به په خپلو مرکو کې تل د افغانستان ربښتینی انځور وړاندې کاوه او دلته یې د روان وضعیت د کنټرول او سولې یوازینۍ لار په خپلو کې د افغانانو کېناستل بلل. ده به ویل، تر هغه چې افغانان په خپلو کې سره نه وي ناست، پردي خلک دوی ته سوله نه شي راوړلی.

د اکبر ایازي پر مړینه د نړیوالو رسنیو مدیرانو او دغه راز په هېواد کې خبریالانو او د ژورنالېستانو ټولنو خپله خواشیني څرگنده کړې ده. پخواني ولسمشر حامد کرزي، اوسني ولسمشر اشرف غني او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم د نوموړي پر مړینه خواشیني څرگنده کړې ده. دوی ټولو اکبر ایازي په افغانستان او نړۍ کې د ژورنالېزم د برخې یو وتلی، فعال او صادق شخصیت بللی دی.

ایازي په دې وروستیو کې له ناروغۍ کړېده. د همدې ناروغۍ له امله د روانې سنبلې میاشتې په څلورمه نېټه له دې نړۍ لاړ. هغه په امریکا کې خاورو ته وسپارل شو. افغان سیاستوالو، مدني فعالانو او خبریالانو یې د فاتحې مراسم په کابل کې په عیدگاه جومات کې تر سره کړل.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۰ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۶ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۴,۱۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# څنگه پر ځای، سمه او مؤثره بخښنه وغواړو؟

**ژباړه: نور احمد فضلي**

په پښتو کې یوه معقوله لرو، چې وايي: «هیڅ انسان له خطاه څخه خالي نه دی». بالکل، هر انسان لږ و ډېرې خطاوې لري، خو دلته بیا هغوی یا هغه کسان گټونکي دي، چې پوهېږي څنگه خپلې خطاوې جبران کړي او بل واري کوښښ وکړي چې هغه تېروتنه یا غلطي بیاځلې تکرار نه کړي. دا چې انسانان یو له بل سره تعامل کوي، نو د یوه خطاه د نورو د زهیرېدلو سبب کېږي. نو کله چې وایو، هیڅ یو انسان له خطا یا غلطۍ څخه خالي نه دی او د یوه انسان خطا د نورو د زهیرېدو سبب کېږي، اړتیا ده چې د بخښنې غوښتلو سهي طریقه زده کړو.

تاسې به اورېدلي وي چې وايي: «بخښنه غوښتل یو هُنر دی؟» دغه کوچنۍ جمله خورا لویه مانا لېږدوي. ستاسې په یادېږي چې تاسې لومړی کوم هُنر زده کړی و؟ ډېری کوچنیان یې له رنگونو گډولو شروع کوي او لومړی دا زده کوي چې څنگه متناسب، موزون او ښایسته رنگونه سره گډ کړي چې بلې مرحلې ته یې نقاشي زده کړې وي. په دغه دوران کې چې تاسې یوه شي ته ډېر متوجه وی، دا وو چې له خط څخه د باندې ځای رنگ نه کړی او همدارنگه چې کله مو د یوه تصویر منځ ور رنگ کړ، حتی د یوه ټکي په اندازه سپین ځای هم درڅخه بې رنگه پاتې نه شي. په همدې اساس، دا هرڅه توازن لري او باید په افراط یا تفریط کې ښکېل نه شی.

بخښنه غوښتل هم یو رفتاري هُنر دی چې باید پام مو وي، چې نه دومره له حده زیات وي چې خپل عزتّ نفس ته زیان واړوی او نه هم دومره د بخښنې په غوښتلو کې بخیل اوسی، چې خپلې غلطۍ له جبرانولو پرته او همدارنگه د نورو د زړونو له خوشالولو پرته پر ځای پرېږدی. داسې یو څوک تصور کړئ چې په خپل کارځای کې د دې لپاره چې همکارانو یې همېشه له هغه/هغې سره ښې اړیکې لرلې وي، همېشه د خپلو کړو یا نه کړو په اړه بخښنه غواړي. تر یوې مودې وروسته نور د هغه/هغې په اړه څه فکر کوي؟ یا داسې یو کس چې حتی په یوه جدي اختلاف کې چې گناهکار هم هغه وي، خو حاضر نه وي چې بخښنه وغواړي. په دغو دواړو حالاتو کې فرد په خپل ټول بې هُنریت سره، په خپلو اړیکو کې ستونزه رامنځ ته کړې ده. تاسې کوښښ وکړئ چې د بل هر هُنر په شان، په تمرین او تکرار سره دغه هُنر هم زده کړی، دا ځکه چې فردي او کورنی ژوند به مو در بدل کړي.

ښکاره او څرگند ووایاست

ښکاره ووایاست چې د خپل کوم رفتار یا چلند په خاطر بخښنه غواړی. خپله هغه غلطي چې د زړه له صدقه مو منلې وي او ستاسې د مقابل طرف د زهیرېدو سبب شوې وي، نوم یې واخلئ.

په ډېرو وختونو کې له دغې جملې څخه خورا ډېره گټه اخیستل کېږي: که له ما څخه زهیر شوي یاست، زه بخښنه غواړم! دا په داسې حال کې دي، چې دغه او دغې ته ورته جملې دومره کُلي دي چې هیڅ دا نه مشخصوي چې تاسې متوجه یاست چې ولې هغه ناراحته دی/ده. باید ډېر ساده، څرگند او واضح ووایاست او بخښنه وغواړی. د بېلگې په ډول، داسې ووایاست: د دې په خاطر چې فلاني ته مې ستا په اړه وویل چې ته یو بخیل او خسیس انسان یې، ما وبخښه. بل لا غوره به دا وي، چې په دغسې وختونو کې که ستاسې کار یا غلطي علت ولري، هغه هم ووایاست. مهمه دا نه ده چې علت دې معقول یا غیر معقول وي، خو ووایاست چې ولې مو دغسې غلطي کړې ده.

کېدای شي ستاسې مقابل طرف فکر وکړي چې له هغه/هغې څخه مو کرکه کېږي، چې د هغه/هغې په غیاب کې مو ورته بخیل یا خسیس ویلي دي، خو تاسې یو دلیل لری، هغه/هغې تاسې ته خپل موټر په پور نه دی درکړی او دا چې تاسې خپل موټر نه لری، د حسادت حس سبب شوی دی چې وغواړی هغه په بخیل/بخیلې ونوموی. په دغسې شرایطو کې تاسې یوازې دومره ووایاست چې: دا ستا حق و چې ما ته موټر رانه کړی، خو زه هغه وخت ډېر په غُسه شوم او یوه غلطي راڅخه وشوه. بخښنه غوښتل چې هر څومره له موضوع سره تړلې او ښکاره وي، صریحه وي، هغومره اورېدونکی آراموي.

وبخښئ خو زه ملامت/ملامته نه وم

ځینې وختونه د یوه کار په غلط ډول اجراء کول تر هغه چې نه وي تر سره شوی، ډېرې بدې پایلې لري. نو که غواړی چې له یوه چا څخه بخښنه وغواړی، نو سمه او پر موقع دغه کار وکړئ. د بخښنې غوښتلو واقعي وخت هغه نه دی چې له تاسې څخه یو څوک زهیر شوی دی، بلکې هغه وخت دی چې تاسې خپله ومنئ چې تېروتنه مو کړې ده. که یوازې کله چې د یوه کس زړه بدوالی/خوابدي کېده، وینی او په دغه خاطر چې اړیکې مو خرابې نه شي، بخښنه وغواړئ، په دغه کار کې چندانې نه کامیابېږی.

حتی کېدای شي چې ترمنځ مو بحث او خبرې اترې رامنځ ته شي او کار لا ډېر پسې باریک شي. تاسې باید هغه وخت بخښنه وغواړئ چې وپوهېږی او وې منئ چې غلطي مو کړې ده. حتی کېدای شي چې ستاسې مقابل طرف خوابدی/خوابدې شوی/شوې نه وي، یا یې خپله خوابدتیا ښکاره کړې نه وي، خو همدا چې تاسې خپلې غلطۍ ته متوجې شوي یاست، ورڅخه بخښنه وغواړئ.


د دغه علت چې باید خپله غلطي مو منلې وه، داسې یو احساس دی چې د بدن په ژبه (Body Language) او د پُر معنا کلماتو په اوډون سره یې خپل مقابل طرف ته القاء کوی. کېدای شي د وبخښه، ما غلطي وکړه، یوه جمله په داسې حال کې چې ټول مقصر او ملامت هم تاسې یاست، ووایاست: "وبخښه نو، سمه ده غلطي ټوله زما وه!" چې دغه جمله کاملاً دغسې مانا ورکوي چې تاسې په یو رقم غواړی چې موضوع ختمه کړی. حتی که د کلماتو په کارولو او انتخابولو کې هم کافي دقت ولری، ستاسې د بدن حرکات ستاسې رسوا کوونکي دي او په دغه وخت کې ستاسې د مقابل طرف احساس به غلط نه وي. نو د دې لپاره چې کار له خراب څخه خرابتر نه کړی، هغه وخت بخښنه وغواړئ چې په رښتیا سره مو خپله تېروتنه یا غلطي منلې وي.

په اوږدمهال کې د رفتار تغیرول

د داسې کلماتو لکه: "وبخښئ، بخښنه غواړم، یا اف! غلطي مې وکړه" او داسې نورو... کارول په هیڅ رقم واقعي بخښنه غوښتل نه حسابېږي، بلکې دغه ډول بخښنه غوښتل یوازې تش په نوم هغه ده. دغه ډول بخښنې غوښتل به په داسې یوه وخت کې چې په نافهمۍ کې مو یو چا ته زیان اړولی وي، گټورې وي، خو په نورو مواردو کې چې د مقابل طرف احساسات مو ژور زخمي کړي وي، هېڅکله مؤثرې او گټورې نه دي.

سهي او مؤثره بخښنه غوښتل دغه دي چې هغه چا ته چې مو‌ږ یې د رنج، زهیرېدلو، زړه بدولو او خپه کولو سبب شوي یو، عاطفي، همدلانه او د زړه له کومې جواب ووایو. په حقیقت کې باید بخښنه غوښتل د زړه له تل څخه وي او د هغه خاص رفتار په بدله کې وي، چې مو‌ږ کړی دی. گنې بې مانا او بې گټې به وي. دغه کار د جبران له بحث سره هم فرق کوي. تاسې یو وار د بخښنې غوښتلو پر مهال له مقابل طرفه پوښتی چې څنگه د خپلې غلطۍ جبران وکړی، چې دغه خبره کاملاً ضروري ده، خو وروسته او په دغسې موقعگانو کې باید په تاسې کې د رفتار تغیر هم رامنځ ته شي. د بېلگې په ډول، نور د خپل ژوند د ملگري پر وړاندې د نورو په حضور کې جبهه نه نیسی او یا شخړې نه کوی. که داسې نه وي، په موقتي ډول به زهیرېدل لرې شي او بل واري به په لا ډېر شدت سره رامنځ ته شي او نور به نو ستاسې پر بخښنې غوښتلو هم باور نه کېږي.

# په لغمان کې پر یوه کور د هاوان لگېدو له امله ۱۳ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې



د لغمان سیمه ییز چارواکي وايي، د دغه ولایت د الیشنگ په شمسه خېلو سیمه کې د طالبانو د هاوان مرمۍ پر یو کور لگېدلې، چې د یوې کورنۍ اووه غړي یې وژلي او شپږ نور یې ټپیان کړي دي.

د لغمان د والي ویاند اسدالله دولتزي امریکا غږ ته ویلي، چې د هاوان مرمۍ د طالبانو لخوا توغول شوې وه. هغه ویلي، په وژل شویو کې یوه مور او د هغې څلور بچیان هم شامل دي.

د لغمان د دولتي روغتون مشر ډاکټر فاروق سهاک هم امریکا غږ ته ویلي: «د پېښې له ځایه زموږ روغتون ته دوه جسدونه او شپږ زخمیان راوړل شوي وو، چې د یو ټپي روغتیایي حالت نازک و او کابل ته یې لېږدولی دی».

هغه زیاته کړې چې په ټپیانو کې یو هلک او یوه نجلۍ درې کلن دي او یو بل ماشوم پنځه کلن او یوه مېرمن هم شامله ده.

د سیمې اوسېدونکي گل محمد چې له ټپیانو سره د مهترلام روغتون ته ورغلی، ویلي: «موږ پوه نه شوو چې دا مرمۍ له کوم لوري راغله، خو زموږ د دې گاونډي په کور لگېدلې او په نتیجه کې یې د دغه وړوکي ماشوم چې دواړه پښې یې پرې شوې دي، د همدې ماشوم مور او پلار هم پکې مړه شوي دي».

خو تر اوسه وسله والو طالبانو په دې اړه رسنیو ته څه نه دي ویلي.

بلخوا د سیمې ځینو اوسېدونکو دا هم ویلي، چې د پېښې سیمې ته نږدې د ملي اردو مرکز هم شته او معلومه نه ده چې دا مرمۍ د طالبانو او که حکومت له لوري ویشتل شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د جگړې په ډگر کې د ملکیانو مرگ ژوبله په بې ساري ډول لوړه شوې، چې د ډېرو کورنیو او نړیوالو بنسټونو غبرگونونه یې هم راپارولي دي.

# حقوقپوهان: د مستعفي وکیلانو د کار دې دوام په اړه د ولسمشر سپارښتنه د قانون خلاف ده



ولسمشر غني د یکشنبې په ورځ د ولایتي شورا له غړو سره په ارگ کې د لیدنې پر مهال له هغوی سره په ځینو برخو کې تازه ژمنې کړې دي.

ولسمشرۍ ماڼۍ په یوه اعلامیه کې ویلي چې ولسمشر غني په دې ناسته کې د ولایتي شورا د هغو ۸۲ وکیلانو د کار د دوام سپارښتنه کړې، چې په وروستیو وختونو کې یې د ولسي جرگې د ټاکنو لپاره له خپلو دندو استعفا کړې وه.

ارگ وايي چې ولسمشر دغه سپارښتنه په دې شرط کړې، چې کومه قانوني ستونزه ونه لري.

خو د حقوقي چارو شنونکي د ولسمشر غني د دې سپارښتنې په غبرگون کې وايي، چې د ټاکنو قانون له مخې، ولسمشر غني حق نه لري چې د ولایتي شورا مستعفي غړو ته د دندو د دوام سپارښتنه وکړي.

دوی وايي چې د ولسمشر غني دغه کار د ټاکنو او اساسي قانون خلاف دی.

د حقوقي چارو کارپوه عبدالرحیم رحیم وايي: «که څوک له یوې دندې د بلې لپاره ځان نوماندوي، نو بېرته خپلې دندې ته د راستنېدو حق نه لري او جمهور رییس د دې صلاحیت نه لري چې د قانون خلاف کار وکړي».

شنونکي وايي چې د ټاکنو د تازه قانون له مخې، هغه کسان چې د ټاکنو په موخه له دولتي دندو استعفا کوي، په هیڅ دلیل نه شي کولای بېرته خپلې پخوانۍ دندې ته دوام ورکړي. په ورته مهال د ولسي جرگې ځینې پخواني غړي د ولسمشر غني یاده کړنه کمپاینې بولي او زیاتوي چې ولسمشر غني دغه کار پر ځان د ځینو کسانو د ماتولو په هدف کوي.

د یادونې ده چې دا لومړی ځل نه دی چې ولسمشر غني د قانون خلاف سپارښتنه کوي، بلکې تر دې مخکې هم نوموړي د ټاکنیزو کمپاینونو پر وخت، د قانون خلاف فرمانونه صادر کړي دي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey






**المبارک**

**توریستي شرکت**

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر درېیمه | ۴۲۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۶ | ۳۶ | ۳۳ | ۳۸ | ۳۳ |
| ۱۹ | ۱٦ | ۱۷ | ۲۰ | ۲۷ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۰۱ | لمر ختل ۰۵:۲۶ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازدیگر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰٦:۲۰ | ماخوستن ۰۷:٤۷

## نړۍ




## سور صلیب: په یمن کې د سعودي په مشرۍ ائتلاف په هوایي بریدونو کې له ۱۰۰ زیات بندیان وژل شوي




د سره صلیب نړیوالې کمېټې ویلي، د سعودي عربستان په مشرۍ ائتلاف په وروستیو بریدونو کې چې د یمن په جنوب لوېدیځ کې پر یو توقیف ځای شوي، له ۱۰۰ زیات کسان وژل شوي دي.

د دغې کمېټې په خبره، د ورمې ورځې په دغو هوایي بریدونو کې ۴۰ ټپیان په ذمار ښار کې روغتونونو ته انتقال شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د سعودي په مشرۍ ائتلاف ویلي وو، چې د یمن پلازمېنې صنعا ته نږدې یې د حوثي یاغیانو مرکزونه په نښه کړي چې درنه مرگ ژوبله یې ورته اړولې ده.

په ورته وخت کې د سره صلیب د هیئت رییس فرانس راوختن شتاین چې سیمې ته د ارزونې په موخه تللی، ویلي چې په دغو بریدونو کې تر ډېره ملکیان په نښه شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ایران له ملاتړ څخه برخمنو حوثیانو ویلي وو، چې په دغو هوایي بریدونو کې ٦۰ کسان وژل شوي او ۵۰ نور ټپیان شوي دي.

د حوثیانو د روغتیا وزارت یوه ویاند یوسف الحاضري ویلي چې د هوایي بریدونو پر مهال ۱۷۰ زندانیان د توقیف په دغه مرکز کې موجود وو، چې ډېریو ته یې مرگ ژوبله اوښتې ده.

## روسیه: د امریکا بریدونه به په ادلیب ښار کې شوی اوربند له خنډونو سره مخ کړي



د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې ویلي چې د سوریې په ادلیب ښار کې د امریکا بریدونه رامنځته شوی اوربند له ستونزو سره مخ کولی شي.

په دغه بیان کې راغلي: «په ادلیب کې د امریکا وروستي اقدامات غیرمنطقي، متناقض او پوښتنې پاروونکي دي. له یوې خوا دغه هېواد په دې ښار کې د اوربند د ټینگښدو چیغې وهي او له بلې خوا بیا هوایي بریدونه کوي».

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په بیان کې دغه راز راغلي چې که امریکا په همدې توگه خپلسرو هوایي بریدونو ته دوام ورکړي، ښایي هلته تازه رامنځته شوی اوربند له ستونزو سره مخ کړي.

دغه وزارت ویلي چې ملگرو ملتونو ته یې هم په ادلیب کې د امریکا د روانو پاروونکو اقداماتو په تړاو خبر ورکړی او که یې مخه ونه نیول شي، ښایي د دغه ښار د زرگونو اوسېدونکو ژوند له جدي گواښ سره مخ شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امریکا مرکزي قوماندانۍ ویلي وو چې د سوریې په ادلیب ښار کې په هوایي بریدونو کې د القاعده شبکې په لسگونو جنگیالي وژل شوي چې ډېری برخه یې د دې شبکې مشران وو.

خو روسیې ویلي چې په دغو بریدونو کې ملکي وگړو ته هم درنه مرگ ژوبله اوښتې ده.

## کمیسیون حقوق بشر: افزایش ۷۰ درصد تلفات ملکی در غور نگران کننده است



کمیسیون حقوق بشر افغانستان، افزایش۷۰ درصد تلفات غیرنظامیان در پنج ماه اول سال روان در ولایت غور را نگران کننده می داند.

مسئولان دفتر ولایتی این کمیسیون در غور می‌گویند که بیشترین این قربانیان، زنان و کودکان هستند.

فریده ناصری سرپرست دفتر ولایتی کمیسیون مستقل حقوق بشر غور، گفت که تلفات غیرنظامیان در پنج ماه نخست سال ۱۳۹۸، نسبت به زمان مشابه آن در سال گذشته ۷۰ درصد افزایش یافته است.

بر بنیاد معلومات موصوف، درپنج ماه اول سال جاری، ٤۸ تن در نتیجۀ درگیری‌ها و انفجار ماین‌ها کشته و ۳۲ غیرنظامی زخمی شده اند که زنان و کودکان شامل قربانیان و مجروحین بوده اند.

خانم ناصری، هدف قراردادن غیرنظامیان را مغایر قوانین جنگی دانسته و گفت: «تلفات افراد ملکی در ولایت غور، روز به روز در حال افزایش است؛ آماری که در کمیسیون ثبت شده، نشان میدهد که در جریان پنج ماه امسال، ۸۰ تن کشته و زخمی شده اند؛ درحالیکه در زمان مشابه سال گذشته ۳۳ تن کشته و زخمی داشته ایم، که متاسفانه افزایش ۷۰ درصد را نشان میدهد».


با این حال عبدالحی خطیبی سخنگوی والی غور نیز افزایش تلفات افراد ملکی را در این ولایت نگران کننده دانسته و گفت که گروه طالبان، عامل عمده این کشتارها است.

به گفتۀ خطیبی، طالبان با استفاده از خانه‌های مسکونی منحیث سنگر و فرش نمودن ماین های کنار جاده، بیشترین تلفات را به مردم عام وارد کرده اند.

اما قاری یوسف احمدی از سخنگویان گروه طالبان، فرش نمودن ماین‌های کنار جاده و استفاده از خانه‌های مسکونی منحیث سنگر از سوی گروه شان را کاملاً رد می کند.


## ژوند

## امیدوارې مېرمنې دې ډېر انټي بیوټیک نه کاروي



که امیدوارې مېرمنې د امیدوارۍ په لومړیو دریو میاشتو کې انټي بیوټیک درمل وکاروي، کېدای شي ماشوم یې په اوږدلو کې ستونزه ولري. د غوږونو د برخې متخصص ډاکټران وايي، په نویو زیږېدلو ماشومانو کې د نه اورېدو ستونزه دوه لاملونه لري: لومړی دا چې کېدای شي یوه جنېټیکي ستونزه وي، چې دا ډول پېښې ډېرې کمې دي او ښايي له درې تر شپږ سلنې ماشومان دا ستونزه ولري. څېړنو ثابته کړې چې په نویو زیږېدونکو ماشومانو کې د نه اورېدو تر ټولو لوی لامل د امیدوارو مېرمنو له خوا د امیدوارۍ په لومړیو دریو میاشتو کې د انټي بیوټیک درملو کارول دي. ډاکټران وايي چې په خپلوانو کې واده کول هم ډېر کله په ماشومانو کې د نه اورېدو ستونزې پیدا کوي. دوی وايي، د ۴۰ سلنه هغو کسانو اولادونه د نه اورېدو ستونزې لري چې په خپلوانو کې یې واده کړی وي. ویل کېږي هغه ماشومان چې په اورېدو کې ستونزې لري، نو وزن یې کم او په سر کې یې تار تار سپین وېښتان موجود وي. د دې ستونزې د هوارې دایمي او بنسټیزه حللاره نشته، خو غوږۍ کولای شي له دغسې ماشومانو سره په اورېدو کې مرسته وکړي.

## قوي ایمان او کلکه اراده د بریا کلي ده




په کلي ډول بریا یوازې پر قوي ایمان او ارادې پورې تړلې ده، هغه لاره چې تاسو د ځان لپاره ټاکلې ده او غواړۍ له دې لارې بریا ته ورسېږۍ؛ که پوره ایمان او باور پرې ونه لرۍ، لرې نه ده چې له سختو توپانونو او خنډونو سره به مخ شی او بالاخره به خپلې موخې ته په رسېدو کې ناکام شی.

سمه ده، د دې لپاره چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره هڅې او کار کولو ته هم اړتیا شته، خو ایمان او باور یې اصلي لاملونه دي. دا مو موخې ته د رسېدو لپاره له هغو ستونزو او خنډونو سره مبارزې ته چمتو کوي، چې مخې ته مو راځي.

دا خبره هم سمه ده چې کېدای شي کله کله موخې ته د رسېدو لپاره له ځینو ستونزو سره مخ شی او له خپلې موخې مو زړه توری کړي، خو که پوره ایمان او باور ولرۍ او غواړۍ د نېکمرغۍ دروازې مو پر مخ خلاصې شي، نو پر خپل ځان باندې باور له لاسه مه ورکوئ. تل دا دوه شیان په یاد ولرئ: «پر موخه باور او د مسوولیت احساس» که مو کله دغه دوه ټکي په ځان کې نهادینه کړل، پوه شی چې نور خپلې موخې ته رسېدلي او په خپله چاره کې بریالي شوي یاست.